
احمد کامل ۲۰۱۰/۲/۸

# ددین کاواکه بنستونه او مخ پر ودې شیعه ییزم

اتیایمه زېږدیزه لسیزه وه چې ببروت د ایران د فلمونو د ننداړو په یوه مرکز بدل شوی و. په ۱۹۸۹ کال کې بیا د ایران یوه فلم جوړونکي بهرام بیضایي یو فلم جوړ کړ چې د لبنان کوڅه پر کوڅه ګرزېده.
دفلم د کیسي اتل د سوېلي ایران یو ځوان (( باشو)) و چې کورنی یې د ایران- عراق په جګړه کې د هوایي برید په پایله کې وژل شوې وه .




په دغه فلم کې هڅه شوې وه چې ایران د نړیوال شیعه ییزم مرکز وښیي او تر ډېره بریده یې د سیکالوجیکي او نورو ورته والیو په مرسته پر لبنانیانو دا منلې وه .
په عین حال کې له حزب الله سره د ایران مرستي دغه خبره پیاوړې کوله او د ببروت په هر ګوټ کې به یو ایرانی فلم خپرېده، چې د ایران لوبغاړو، سناریو او کیسه لیکونکو په مرسته به یې د ایران د توندلاري او سخت دریځه رژیم او بیا په ټوله کې د ایران انځور وراندې کاوه .
دغو فلمونو له لبنایانو څخه دا ورکه کړې وه چې د ایران فلم جوړونکی څوک دی او توندلاری او سخت دریځی څوک؟
له ایراني فلمونو سره د لبنانیانو د زړه تړاوي بل لوی لامل دا و چې دواړه هېوادونه له جګړې کړېدلي و او ایرانیان پوهېدل چې لبنانیان څه ډول اغېزمنولای شي .
یو امریکایي لیکوال ډاکټر Roschanack Shaery-Eisenlohr په خپله یوه شننه کې لیکي چې ایران په لبنان کې پټ استازي وګمارل او د هغو موخو لپاره به یې کمپاینونه کول چې ایران یې د نړیوال شیعه ییزم د مرکز په توګه زباتاوه .
په مرکزي اسیا کې تر ډېرو وروستیو پورې د شیعه ییزم پر ضد یو ډول کرکه وه خو په ۱۹۹۰ کلونو کې ایران په سیمه کې د اغېزې لپاره یوه پروژه پیل کړه چې د ملایانو له لورې پر مخ بېول کېده .
ښاغلي Sebastien Peyrouse بیا د ۲۰۰۹ کال په می کې یوه شننه خپره کړې او وېي لیکل چې دغه پروژه له مشهده پیل شوه چې ایراني حکومت یې مالي او سیاسي ملاتړ کاوه .
دده په وینا په دې لړ کې ایران د تاجکستان مخالفي ډلې په ځانګړي ډول ددغې ډلې دوو مشرانو سیدعبدالله نوري او حاجي اکبر توراجان زاده ته ډېر پام ور واړاو چې بیا یې د پخلاینې په هغه بهیر کې هم ونډه لرله چې د ۱۹۹۷ کال دسولې تړون تړې رامنځته شو .
ښاغلی پییرس وایي چې د ۱۹۹۰ کلونو په دویمه نیمایي کې ایران دې پایلې ته ورسېده چې نور باید مذهب په داسې لاره و نه کاروي چې یا د سیمه ییزو اړیکو او یا هم د اقتصادي همکاریو دېرمختګ خنډ شي .
وروسته بیا ایران یوه بله لاره خپله کړه هغه دا چې ایران په خپلو مرکزونو او یا د امام خمیني د خیریه بنسټ په څېر ادارو کې خلکو ته وړیا مذهبي زده کړې ورکولې .
چې ښه بېلګه یې په تاجکستان کې دامام خمیني د بنسټ فعالیت دی چې له ۱۹۹٤ کاله راهیسي یې پیل کړی و .
دغه وړیا مذهبي زدکړې د سیمې د ټولو هغو کسانو لپاره وې چې لېوالتیا یې لرله او له زده کړو وروسته به یې په طبعي ډول شیعه ییزم ته کار کاوه .

*<u>شل کاله وروسته یو ختیز ګاونډی</u>*

افغانستان او ایران دوه ګاونډیان دي خو لومړی یې غوڅ سني او دویم هغه یې په رسمي کچه شیعه دی . په افغانستان کې تر اتیایمې لسیزې پورې د ایران مذهبي اغېزې ته هېڅ لاره نه جوړېدله .
خو کله چې جګړې پیل شوې نو د ایران د اغېزې لپاره هم ورځ په ورځ فرصتونه زیاتېدل . هم یې په افغانستان کې د خیریه فعالیتونو په نوم لاسوهنه پیل کړه او هم یې ډېر هغه شیعه افغانان د مذهبي زدکړو په نامه خپلو مذهبي موسسو ته ننه ایستل چې دوی یې تمه کوله . د مذهبي زده کړو ګټه دا وه چې په اسلامي نړۍ کې لا هم روحا مذهب ته د یوې بشري او انساني اړتیا په سترګه کتل کېږي او د بېلښت تصور یې نه شي کولای .
د ایران له محاسبي سره سم تر روزل کېدو وروسته دغه هر یو تن په یوازې او ډله ییزه توګه هڅې پیل کړې چې د دغه هېواد په مالي او سیاسي مرسته هغه څه وکړي چې غوښتنه یې تړې کېده.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

دغه کډوال بېرته راستانه شول ، لوړ لوړ لاسوندونه یې اخیستي و او ظاهرا یې مذهبي زده کړې وې .
په افغانستان کې مخکې له مخکې د ایران شتون او دلته شته استازو لا دغه چاره اسانه کړې وه او د نویو اړیکو جوړولو ته اړتیا پېښه نه شوه .
د مجاهدینو پر مهال یې د وسلو او نورو شیانو مرستې کولې خو په راوروسته کې حالات بدل شول .
افغانستان ته هم دلبنان په څېر ایراني فلمونه راسر شول او د خپرولو لپاره یې د تېلو له پریمانه پانګې څخه میلیونه ډالره د څو ټلوېزیوني چینلونو لپاره ځانګړې شول .
ټلوېزیونو خپروني پیل کړې او هغه فلمونه هم ننداری ته وړاندې شول چې یو مهال دبېروت په ښار کې لبنانیانو کتل .
د ایران اغېز ورځ تر بلې مخ پر لوړ روان شو او نن داسې کچې ته رسېدلی دی چې ایران به یې فکر نه کاوه .

*ګډه نمانځنه*

د عاشورا د نمانځنې لپاره ټول ښار پوښل شوی ، لوډسپیکرونه په لوړ غږ غږېږي او د حکومت له غوښتنو سره سره بیا هم سړکونه تړل کېږي او د محرم د نمانځنې په نوم د ایران ګټې خوندي کاوه شي .
په دې کې شک نشته چې د کربلا پېښه د اسلام په تاریخ کې یوه ډېره ترخه پېښه ده چې د اسلام د سترپیغمبر ډېر ګران لمسی پکې له نړۍ سره مخه ښه کوي او د شهادت پر لاره خپل ابدي کورته ځان رسوي .
په دې کې د شیعه او سني مسله له سره مطرح کېږي نه چې څوک دې د حسین خواږی او د یزید ملامتونکی و نه اوسي خو کیسه همدلته نه ختمېږي .
عاشورا د ټولو ګډه ورځ ده ، ځکه هر څوک یې اسلام او اسلامي تاریخ ته په درناوي سره نمانځې خو دا بیا بېله خبره ده چې ځنځیرونه ، ټوکرونه، پیسې، او کیسټې ورته له ایرانه راوړل کېږي .
د افغانستان د مالیې وزارت وایي چې دغه توکي موټرونه – موټرونه افغانستان ته په ناقانونه توګه را اړول شوي او هېڅ محصول یې نه دی ورکړی .
اوس که ایران یو مشروع کار کولای او یوازې یې د غمشریکۍ په ډول له افغانانو سره ددغو توکو مرسته کولای نو چې موټرونه – موټرونه توکي اخلي ایا محصول پرېکولو ته به یې ملا ماته وي ؟
خو کله چې دومره توکي هم راوړل کېږي او هغه هم په پټه نو ددې تر شا خو ښکاره خبره ده چې موخې نورې دي .

*د دین کاواکه شوې بنسټونه*

په افغانستان کې د لویدیز د ډیموکراسی له برکته د دین پیاوړي بنسټونه هغسې کاواکه او ځپځپانده شوي چې کله یې هم چا تصور نه شو کولای. فحشاء، شراب، غلا، چور، رشوت او نورې زرګونه بېلا بېلې ګوناوې اوس د کابل د کوڅو یوه عادي انځور دی . نه په حکومتي کچه څوک د پوښتنې شته او نه هم په ټولنه کې هغه اسلامي متره او ځواک شته چې مخه یې و نیسي. د بانکونو سیالي د سود د ورکړې په زیاتولو روانه ده، هغه څه چې خدای ج یې په قران کې له خدای سره جګړه بولي ، خو حکومت هومره نه شي کولای چې ددغې سترې ګناه مخه و نیسي. په رسنیو کې نڅدې لوڅې سندرې او انځورنه خپرول عادي شوي دي او هېڅوک هم نشته چې ورسره دې حساب و کړي. سړي وژنه او نور جنایتونه هومره ډېر شوي دي چې سړی به فکر هم ونه کړي چې په یوه اسلامي ټولنه کې دې دومره ډېر فجایع هم پاتې شي. دملا ټول دیني ارزښتونه دې ته راټول شوي دي چې یوڅوک له ده سره څنګه په غاړه تللای شي. که پیسې او نور څه ترې ګوتو ته کېدای شي نو نه کفر شته او نه هم کافر خو که د ګټې خبره نه وي نو د موسسې او حکومت هر کارکوونکي ته د کافر، واجب القتل او مباح الدم په سترګه ګوري .
په دغسې یو حالت کې چې په نوم یوه اسلامي ټولنه وي او د اسلام بنسټونه هم پکې دومره کاواکه شوي وي چې فرایض خلک نه کوي نو دا د هېښتیا خبره نه ده چې د یزید دغندلو لپاره دې دومره خلک راټول شي چې سړی یې فکر و نه کړي .
د انسان وینه تویول او په قصد وژل په ایت ثابته یوه ستره او نه ښښل کېدونکې ګناه ده . دا سمه ده چې حضرت حسین او یو عادي انسان به کرکټرو او انساني فضایلو ته په پام سره توپیر لري خو انسانیت ددواړو یو شی دی .
موږ خو کله هم ولسمشر کرزی و نه لید چې د معاصر یزید او یوه امریکایي قاتل د غندنې له یوې غونډې سره دې یو ځای شوی وي خو د شیخ محسیني له لوري جوړېدونکې غونډه بیا بل ډول وي.
دا یې ښه کار وکړ او ثابته یې کړه چې دی هم د یزید دښمن دی خو دې ته هم باید ځواب و موندل شي چې زموږ ولسمشر د هغو بېګنا انسانانو د وېر په مراسمو کې ولې د ګډون وس نه لري چې هره ورځ د امریکایانو او یا هم د حکومت د مخالفینو له لوري په یو او بل نوم وژل کېږي .
که د ایران له لوري د شیعه ییزم د پراختیا مسله نه شي ، دوی ولې په خپل هېواد کې په عاشوار کې عاشورا جوړوي او خلک وژني .
دوی دې په خپل هېواد کې هم عاشورا و نمانځي او دلته دې توکي نه را استوي .
د پیري پهلوي په نوم یوه لیکوال )) په سیمه کې داغېز لپاره د ایران پالیسي : پان شیعه ییزم او که پان اسلامیزم؟
((په نوم یوه شننه کې هغو لارو چارو ته اشاره کوي چې ایران یې د خپلې اغېزې د پرېښودلو لپاره کاروي .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

دی لیکي چي ۱۹۳۲ کي په لبنان کي د شیعه گانو سلنه ۱٤ وه خو د ۲۰۰۵-۲۰۰۷ په منځ کي شوې سر شمېرني ښیي چي اوس د لبنان د ټولني اکثریت شیعه گان جوړوي .
نو په افغانستان کي هم که سر له اوسه د ایران د اغېزي د مخنیوي لپاره گامونه وا نخیستل شي نو یو وخت به د هغي افغاني ټولني اکثریت هم شیعه گان وي چي نن یې یو ډېر کوچنی اقلیت جوړوي .
د شیعه گانو موجودیت څه نا روا خبره نه ده بلکي هغوی هم مسلمان دي خو شیعه توب باید د عقیدې پر بنسټ وي نه د چا په فرمایش، لمسون، او گوتمنډنه.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de